مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۶/۰۵

# بېوسي

لکه پـه غـټ ښایـسته قـفس کي چي مرغۍ بنده وي
هسي د خـپـل حـال پـه بـیان کي زما مـرۍ بنده وي

حال د مـظـلـوم او بـېـګـنـاه بـنـدي بـه څـلـه پـوښتئ
په نس که موړ وي خو په پښو کې هتکړۍ بنده وي

پـه ظـاهـري سـینـګـار تـېـر نـه وزئ د وطـن یارانو
پـه غـاړګـۍ کي نـن زمـان ګـوره زیـنـدۍ بـنـده وي

اولـچک لاسو تـه دي جـوړ سوي هتکړۍ و پښو ته
پــکښې زمــا لــه توره بــخـتـه ککرۍ بــنــده وي

د دیــن فــروشو لــه شـامـتـه بـاورونــه ورک سول
د غــټ مُــلا بــه لــه شـیـطـان سـره لـکـۍ بـنده وي

خـواست د مـدد کوه له خدای څخه پردېس معصومه
کـنـه، هــر ځـای بـه مـو پـه ختو کي کښتۍ بنده وي

4مه د جون 2021ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ